## د ملګرو ملتونو او ناټو تړون د غړیو هېوادونو درنو مشرانو!

اوس چې پر نړیوال سوداګریز مرکز له مرګوني برید وروسته ۱۹ کاله تیرېږي چې له امله یې له ۳۰۰۰ زرو ډېرو بېګناه انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او په پایله کې یې د افغانستان د طالبانو رژیم هم نسکور شو. موږ دغه لیک د ټول افغانستان څخه د ۱۵۰۰۰[1] زرو مېرمنو په استازیتوب تاسو ته د دې لپاره لېږو ترڅو له خپلو نړیوالو متحدینو څخه د دوی د هغو قربانیو او ملاتړ څخه مننه وکړو چې زموږ سره یې د ولسواکۍ سیستمونو په جوړولو، له منځه تللیو بنسټونو په رغولو او ځوانانو ته د ځواکمنتیا په ورکولو کې مرسته کړې ده، ترڅو له خپلې انرژۍ او استعداد څخه د هېواد په پرمختګ کې استفاده وکړي.

په تېرو ۱۹ کلونو کې مو چې کومې لوړې او ژورې تجربه کړې دي د عدالت او پایېدونکې سولې په موخه یې زموږ هوډ، ژمنتیا، او لېوالتیا نوره هم غښتلې کړې ده. اوس چې د خپل نوي تاریخ په دغه حساس پړاو کې د هېلهمندۍ ترڅنګ وېره هم لرو. موږ هیلهمندې یو چې د سولې دغه بهیر به په ګران هېواد کې د څلورو لسیزو تاوتریخوالي او وینې تویونې ته د پای ټکی کېږدي. سره له دې بیا هم، وېره لرو که چېرې طالبان افغانستان ته د هغه ذهنیت، داعیې، او چلند سره بېرته هېواد ته راځي چې پر اساس یې په ۱۹۹۰ لسیزه کې زموږ ښارونه کلي او باندې د مړیو په ارواحو بدلې کړې وي او القاعدې په ګډون یې سیمه ییزو او نړیوالو تروریستانو ته خوندي ځایونه ورکړي وو، نو زموږ د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنې به د نابودۍ او خطر سره مخامخ کړي.

موږ د تروریزم سره په مبارزه او افغانستان د پرمختګ په برخه کې د ملاتړ له امله د نړیوالې ټولنې له هڅو او ژمنتیا مننه او ستاینه کوو. همدارنګه له افغانستان څخه د تروریزم په له منځه وړلو کې ستاسو د ځواکونو سره د همکارۍ له امله د خپلو خلکو قربانیو ته په احترام قایل او ستایو یې، ترڅو زموږ غرونه او رغونه د القاعدې او نورو تروریستي ډلو لخوا هېڅکله هم ستاسو د خلکو پر وړاندې د عملیاتو په خوندي ځایونو بدل نشي. افغانان په ځانګړي ډول مېرمنې د تروریستانو سره په جګړه کې تر ټولو ډېرې ځوربدلې او سختې یې ګاللې دي. د دغې خونړۍ جګړې هغه عاطفي/احساساتي اړخ په کلماتو کې نشي بیانېدای. خو په واقعیت کې د دغې جګړې ذهني ټکان، کورنیو د غړیو له لاسه ورکولو درد، بېوزلي، بېځایه کېدل او زموږ د کورنو او ښوونځیو ورانولو فزیکي او ذهني ټپونه به د تل لپاره پر ځای پاتې وي. نو باید ووایو چې تر هر چا ډېر، موږ د افغانستان مېرمنې د جګړې پای ته رسولو لپاره ډېرې لېواله یو، خو زموږ وېره دا ده چې د دغې جګړې پای به سوله نه وي. زموږ په نظر سوله د جګړې د نشتوالي څخه ډېر نور څه هم له ځان سره لري. سوله د ټولو وګړیو د حقونو د خوندیتوب ترڅنګ د ټولنیز عدالت، اقتصادي هوساینې او په عادلانه او برابره توګه د سرچینو وېش څخه ملاتړ کول دي. سوله د جنډر، نژاد، مذهب او سیاسي تړاو له کبله د ځورونې او تعقیب پرته د ګران هېواد په ودانولو کې د سړیو او ښځو برابر ګډون دی.

موږ د افغانستان مېرمنې د امریکان متحده ایالاتو لخوا د سولې د پروسې هرکلی کوو او طالبانو سره د روغې جوړې (سره د تېر تاوتریخوالي) په ګډون په بشپړه توګه د دغې پروسې څخه ملاتړ ته ژمنې یو. موږ داسې یو حالت ته رسېدلې یو چې طالبان باید د یوې سیاسي ډلې په توګه

[1] د ښځو شبکې ولایتي شبکې (PWNs) د افغانستان په پنځلسو ولایتونو کې فعالیت کوي چې پدې شبکو کی د ژوند له بیلابیلو برخو څخه ښځې سره راټولوی ترڅو په ګډه د سولې او ښې حکومتدارۍ لپاره دادخواهی او کار وکړي. PWNs د مشارکت ښځې د سولې په بهیر کې ائتلاف (WIP) غړو په خپلو ټولنو کې د میرمنو سره مشورې کړې، د هغوی لاسلیکونه یې راټول کړې او د هغوی پیغامونه یې پدې لیک کې ځای پر ځای کړي.

ومنو. موږ چمتو یو چې په ملکي ژوندانه کې د دوی د پیوستون سره همکاري وکړو. خو په ورته وخت کې له طالبانو تمه لرو چې دغه واقعیت ته درناوی وکړي او ویې مني چې د افغانستان نفوس د بېلابېلو نژادونو او مذهبونو څخه تشکیل شوی دی، او له ۵۰٪ څخه ډېر نفوس یې ښځینه طبقه جوړوی او ۷۰٪ یې ځوانان دي چې دوی د خپلو هغو لومړنیو حقونو څخه د ګټې اخیستنې حق لري چه په اساسي قانون کې تصریح شوی دی. موږ له دوی غوښتنه کوو چې له تاوتریخوالي لاس واخلي او د خپلې سیاسي آجنډا د تعقیب په موخه له مدني وسیلو څخه کار واخلي.

منو چې اوس په خپل منځ کې د تفاهم کولو وخت رارسېدلی دی او د یوې تلپاتې سولې په موخه په سوله ییز ډول پر خپل اختلافات بحث وکړو. خو بیا هم، باید ووایو چې د افغانستان شخړه د کورنیو ستونزو او ننګونو ترڅنګ سیمه ییز او نړیوال اړخونه هم لري. موږ له همدې امله د ناټو پر غړیو هېوادونو او ملګرو ملتونو غږ کوو چې په دغه ستونزمنو او ناڅرګندو شرایطو کې زموږ ملا وتړي، او د سولې د بېړنۍ معاملې په بدل کې افغانستان په داسې شرایطو کې یوازې پرې نږدې چې په ډېر احتمال سره به یو ځل بیا د نړیوال تروریزم لپاره په یو خوندي ځای بدل شي. متحدین خپل ملګري یوازې نه پرېږدی. د تېرو دوو لسیزو لاسته راوړنو د خوندي کولو په موخه زموږ سره ودرېږئ؛ دغه لاسته راوړنې یوازې د افغانانو نه دي ځکه چې تاسو هم د دغو لاسته راوړنو یوه لویه برخه وئ. موږ او تاسو په ګډه ډېر ستونزمن کارونه ترسره کړي دی. سره د دې چې ډېرې نیمګړتیاوې مو درلودې، خو بیا هم د نړیوال کلي د غړیتوب د ترلاسه کولو په موخه د خپل هېواد لپاره سخت کار کړی دی چې هغه نړیوالو نورمونو او تړونونو ته ارزښت ورکول دي چې موږ د نورې نړۍ سره نښلوي.

**زموږ ځانګړې غوښتنې په لاندې ډول دي:**

- د حساب ورکونې او تلپاتې سولې په منظور د سولې بهیر څخه د څارنې یوه نړیوال مېکانیزم رامنځ ته کول؛
- د افغان وګړیو د حقونو د ساتنې او خپلو پولو څخه د دفاع په موخه د افغان امنیتي ځواکونو سره ستاسو د مرستو او همکاریو دوام؛
- د افغان دولت، سیاسي ګوندونو او طالبانو سره د خپلو نفوذ څخه په ګټې اخیستنې سره په رښتیني او برابره توګه د ښځو، ځوانانو، جګړې د قربانیانو، اقلیتونو، مدني ټولنو او رسینو له ګډون څخه ملاتړ وکړئ، ترڅو د سیاست او مدني ټولنې ترمنځ توازن وساتل شي؛
- پر طالبانو د دایمي بشري اوربند سره د موافقې په موخه فشار راوړئ؛
- د ټولو افغانانو د حقونو د خوندیتوب په برخه کې د پاتې راتلو او د تېرې دوو لسیزو د لاسته راوړنو د ساتلو سره د مخالفت په صورت کې پر دولتی مسوولینو، سیاسي مشرانو او طالبانو مالي او سفري بندیزونه ولګوئ. همدارنګه وړاندیز کوو چې پر سفر د بندیز ترڅنګ د هغو کسانو بهرني بانکي حسابونه او پانګې کنګل کړئ چې د تړون له شرایطو څخه سرغړونه کوي؛
- د نړیوالو بشري حقونو، په ځانګړي ډول د نجونو او ښځو او همدارنګه اقلیتونو ته په احترام د افغانستان سره خپلو مالي مرستو ته دوام ورکړئ؛ او

د تروریزم او افراطیت پر وړاندې په مبارزه کې خپله سیمه ییزه همکاري پراخه او د ډیپلوماسۍ پر مرسته اقتصادي او سیمه ییزو شخړو د حل په موخه خپلې هڅې ګړندۍ کړئ؛ موږ په دې باور یو چې پر خپلو پښو د ولاړ افغانستان د رامینځ ته کولو په موخه مو ډېره لار وهلې ده. اجازه راکړئ، ترڅو د اوږدمهالې سولې د لیدلوري، عدالت او باعزته سولې د تحقق په برخه کې خپل ستراتیژیک صبر له لاسه ور نه کړو او ماشومان مو په سوله کې ژوند وکړي، ځوانان مو د هوسا افغانستان په بیارغونه کې برخه واخلي او همدا چې هېواد مو یو ځل بیا د تروریستي ګروپونو په خوندي پټنځای بدل نشي.

**په درنښت**

د ښځو ولایتي شبکې او په سوله کې د ښځو ائتلاف



**Musharikat**
Email: musharikat_ibcs@dai.com
Phone: +93-731481335

**EQUALITY for Peace and Democracy**
Email: forozan.rasooli@epd-afg.org
Phone: +93 730 663 574